# قبرونو نه د راپاڅیدلو وحشتناک منظر

**14-DECEMBER-2023**



هفته وار د سُنّتونکه اجتماع کښی کیدونکے

د سُنّتونک بیان

(for Islamic Brothers)

په 14 دسمبر کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# قبرونو نه د راپاخیدلو وحشتناک منظر

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... قبرونو نه د راپاخیدلو وحشتناک منظر
- ...اعمال به د خلقو استقبال کوي
- ...د حشر د ویرې نه ئې ساه ورکړله
- ... د خُلې نه به ئې وور خیژي...!!
- ... د قبرونو نه په آلوتلو باندې جنّت ته داخلیدونکي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُالْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: اَوْلَى النَّاسِ بِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً، يعنې د قيامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زيات ما ته نزدې هغه کس وي څوک چې د ټولو نه زيات په ما باندې دُرُود شريف لولي. (1)

نبی کے عاشقوں کی عید ہوگی عید محشر میں
کوئی قدموں میں ہوگا کوئی سینے سے لگا ہوگا
ترے دامانِ رحمت کی کُھلے گی حشر میں وُسعت
وہ آ آ کر چھپے گا جو گنہگار اور بُرا ہوگا (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. (1)

---

[1]...ترمذی، ابواب الوتر، باب ماجاء فی فضل الصلاۃ...الخ، صفحہ:144، حدیث:484.
[2]...وسائل بخشش، صفحہ:183.



www.dawateislami.net

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ښو ښو نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ په اَدَب به کښينم ❁ ښه په توجه سره به بيان اورم ❁ څه چې اورم، د هغې به د ياد ساتلو، پخپله د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!  صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاک د مړو په بيا راپاڅولو باندې قادر دے

اُبَیْ بِن خلف کوم چې د مکے د ټولو نه لوئي او مشهور کافِر وو، يوه ورځ هغه د يو انسان بالکل خراب شوے وروست هډوکے را اوچت کړو، هغه ئې راوړو او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او مَعَاذَالله! د قيامت نه ئې د انکار کولو سره اووئيل: اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا تهٔ زمونږ سره دا وعده کوې چې کله زمونږه هډوکي وراسته شي او بالکل خراب شي، بيا به د قيامت په ورځ الله پاک مونږه راپاڅوي او نوے ژوند به راکوي؟ دا ئې چې اووئيل نو اُبَی بن خلف په لاسونو کښې نيولے هغه وروست هډوکے اومږلو او ذرے ذرے ئې کړو او په هوا کښې ئې بَره اوويشتلو، بيا ئې اووئيل: اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! څوک دے چې دا به بيا راژوندے کوي؟ په دې باندې خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آو! هغه (د لوئي قدرتونو والا) الله پاک دے کوم چې به تا مړ کوي، بيا به دې د مرګ نه پس ژوندے کوي او دوزخ ته به دې اوغورځوي. هغه وخت د 23 [دَروِيشتمې] سيپارے،

---

[1] ...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1.

سورۀ یٰسین شریف دا آیتونه نازل شول. (1)

وَ ضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّ نَسِیَ خَلْقَهٗ ؕ قَالَ مَنْ یُّحْیِ الْعِظَامَ وَ هِیَ رَمِیْمٌ ﴿۷۸﴾ قُلْ یُحْیِیْهَا الَّذِیْۤ اَنْشَاَهَاۤ اَوَّلَ مَرَّةٍ ؕ وَ هُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِیْمُ ۙ ﴿۷۹﴾ (پاره:23، یٰس:7978)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او زمونږ د پاره مثال ورکوي او خپل پيدائش ترينه هير شو. اوئې وئيل: داسې څوک دے چې هډوکي ژوندي کړي هله چې هغه بالکل وراسته شوي وي (۷۸) ته اوفرمايه: هغه هډوکي به هغه ژوندي کوي چا چې هغه ورومبي ځل جوړ کړي وو، او هغه د هر پيدائش علم لرونکے دے (۷۹)

د دې آيتونو خلاصه دا ده چې څومره کم عقل دے دا انسان کوم چې زمونږ د پاره مثال بيانوي او خپل پيدائش ئې هير کړے دے. آيا دا خپل ځان ته نه ګوري چې په اول کښې دے ګنده نطفه وه کومه چې د ورروست هډوکي نه هم زياته بے قدره ده، **الله** پاک په خپل قدرتِ کامله سره په دې کښې ساه واچوله، د اوبو يو څاڅکي له ئې لاسونه، ښپې، پوزه، غوږونه، سترګې ورکړلې او درزيدونکے زړه، سوچ کوونکې دماغ ئې ورکړل او ژوندے صحيح سلامت انسان ئې جوړ کړو، اوس دۀ خپل تخليق هير کړو، دومره مغروره شو چې د **الله** پاک د قدرت نه ئې بالکل انکار اوکړو او د جګړې د پاره راغلے دے؟ اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ده ته تاسو اووائيئ چې دا وراسته هډوکي به هم هغه ذات ژوندي کوي، چا چې په اول ځل دا جوړ کړي وو، کوم خدائے پاک چې د اوبو يو څاڅکے په غوښه، وازګه او هډوکو کښې بدلولے شي، هغه په دې ورَستو هډوکو کښې ساه هم اچولے

[1]... تفسیر خازن، پارہ:23، یٰسین، زیرآیت:77، جلد:4، صفحہ:13-14 خلاصۃً.



www.dawateislami.net

شي. بے شکه هغه **الله**، پاک دے، په هر تخليق ډير ښه پوهيږي. [1]

جو عبرت سے نہیں سمجھے، دلائل بھی نہیں مانے
قیامت خُود بتائے گی، قیامت کیوں ضروری تھی

## دا خو بس يوه رَټنه ده...!!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! قيامت راتلونکے دے، ضرور راتلونکے دے، د مرګ نه پس راپاڅيدل دي، ضرور راپاڅيدل دي، دا د هغه **رَبِّ** کائنات وعده ده، چې د ټولو رښتونو نه لوئي رښتونے دے، د چا دروغ وئيل چې نا ممکن او محال دي، دا د هغه **رَبِّ** کائنات وعده ده چا چې دا دنيا جوړه کړې ده، هغه به يوه ورځ دا فنا کړي، بيا به مونږ د مرګ نه پس بيا راپاڅولے کيږو، زمونږ د اعمالو حساب به کيږي، هغه ورځ به د نيکانو د پاره جنت وي خو آه! ګنهګاران که د رحمتِ اِلٰهی نه محرومه پاتې شول نو دوزخ به ئې ځائے وي. کوم خلق چې د مرګ نه پس بيا راپاڅيدل نه مني، هغوئي په اصل کښې د **الله** پاک د قدرت نه جاهله دي. د مکے کافرانو هم وئيلي وو چې د مرګ نه پس چې کله مونږه وراسته هډوکي شو، آيا مونږ به بيا راژوندي کولے کيږو؟ په دې باندې اوفرمائيلے شول: آو! تاسو به راژوندي کولے شئ او دا څه مشکله خبره نه ده بلکه

فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ ﴿۱۳﴾ فَاِذَا هُمْ بِالسَّاهِرَةِ ﴿۱۴﴾ (پارہ:30،اَلنّٰزِعٰت:1514)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو هغه (پُوکے) خو بس يوه رټنه ده (۱۳) نو فوراً به هغوئي په يو فراخه ميدان کښې پراته وي (۱٤)

**الله**! **الله**! دا دے د **الله** پاک قدرت...!! کفارو به دا ډيره مشکله ګڼله چې په

[1] ...صراط الجنان، پارہ:23، یٰسین، زیر آیت:77، جلد:8، صفحہ:282 خلاصۃً.



www.dawateislami.net

وراستو هډوکو کښې څنګه ساه اچولے کيدے شي؟ **اللّٰه** پاک اوفرمائيل: دا خو به صرف يوه رَټَنه وي، بَس! شپيلۍ به پو کړے شي، هُم هاغه وخت به په زرګاؤ کاله زاړه مړي هم د قبرونو نه راپاڅي. [1]

## د قبر نه د راپاڅيدلو وحشتناک منظر

زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قيامت د قائِميدو پوره نظاره بيان کړې ده، د حديثونو مبارکو مطابق حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام په خُله کښې شپيلۍ نيولې ده او ولاړ دے، چې کله **اللّٰه** پاک هغوئي ته حکم اوفرمائي، هغوئي به شپيلۍ پو کړي، دا به ډير وحشتناک آواز وي، په دې آواز به يوه زلزله راشي، ستوري به راوړژيږي، سپوږمۍ او نمر به په خپل مينځ کښې اوجنګيږي او ذرے ذرے به شي، لکه څنګه چې کشتۍ د سمندر په مينځ کښې د طوفان د چپو په سبب خوزي، زمکه به دغه شان خوزي، هغه وخت به قيامت قائم شي، ټول به مړه کړے شي. د دې نه پس به فرښتو له هم مرګ راشي، ټولې فرښتے به د مرګ خوند څکي، هُغه وخت به د يو حَيّ و قَيُّوم رَبِّ کريم نه علاوه څوک هم ژوندے نه وي، تر څو پورې چې **اللّٰه** پاک اوغواړي، په ټولو به مرګ قائم وي، بيا به **اللّٰه** پاک فرمائي: د عرش پورته کوونکې فرښتے راژوندۍ شۍ. پس هغوئي به راژوندۍ شي. بيا به حکم اوشي جبرائيل او ميکائيل عَلَيْهِمَا السَّلَام راژوندي شۍ. هغوئي به هم ژوندي شي. بيا به **اللّٰه** پاک حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام ته حکم اوکړي: اُنْفُخْ نَفخَةَ الْبَعْثِ د مړ کيدو نه پس د راپاڅولو د پاره شپيلۍ پو کړه...! حضرت اسرافيل عَلَيْهِ السَّلَام به په دريم ځل شپيلۍ پو کړي، بس د دې شپيلۍ پوکلو سره

---

[1]... صراط الجنان، پاره:30، النازعات، زير آيت:10-14، جلد:10، صفحه:526 ماخوذًا.



www.dawateislami.net

به ټول روحونه راووځي، **الله** پاک به فرمائي: زما دې په خپل عِزّت او جلال قسم وي! ټول روحونه خپلو خپلو بدنونو ته لاړ شئ. ټول روحونه به خپلو خپلو بدنونو ته لاړ شي، بيا به زمکه برسيره شي او تاسو ټول به د **الله** پاک په بارګاه کښې حاضر شئ. (1)

اے عاشقانِ رَسُول! قيامت راتلونکے دے، ضرور راتلونکے دے، دا به د **الله** پاک د قدرت يوه نظاره وي چې په زرګاؤ کاله زاړه مړي به هم بيا راژوندي شي او دوباره به په خپلو ښپو اودريږي.

## کله چې به قبرونه اوسپړدلے شي...!!

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! مونږه مسلمانان يو، مونږ د **الله** پاک قدرت هم منو او دا يقين هم لرو چې قيامت راتلونکے دے، مونږ ته د مرګ نه پس بيا راپاخيدل دي، اوس لږه هغه نظاره په خپل تصور کښې راولئ! آه! هغه وخت کله چې به آسمان راغونډ کړے شي، دا زمکه به د اوسپنې د زمکې سره بدله کړے شي، آه! کله چې به نَفْخَةُ الْبَعْث اوشي يعنې د بيا راپاڅولو د پاره به شپيلئ پو کړے شي، قبرونه به څنګه اوسپړدلے شي، په سوونو کاله مخکښې مړه شوي خلق د کومو چې به هډوکي هم خاورې شوي وي، د **الله** پاک په قدرت باندې به راپاڅي، آو! آو! مونږ به بيا راپاڅولے کيږو خو ياد ساتئ! دا راپاخيدل به داسې نه وي، لکه څنګه چې دنيا ته راتلل وي، مونږ دې دنيا ته په يو انداز سره راغو، که څوک مالداره وي او که غريب، که بادشاه وي او که فقير، که ډاکټر وي او که انجنيئر، که عالِم وي او که جاهل، که عبادت کوونکے

1...مُسْنَدِ اِسْحاق بن راهويه، حديث الصور عن ابي هريرة...الخ، جلد:1، صفحه:261، حديث:10 خلاصةً.

وي او که د ګنهګارو سردار، کله چې دنيا ته راځي نو ټول بغير د جامو نه راځي، ټول د خپل ورڅوکي شان بدن سره راځي، د ټولو واړه شان لاسونه، ورپې شان ښپې وي خو په ذهن کښې دا خبره ياده ساتئ چې د قيامت په ورځ راپاڅيدل به داسې راپاڅيدل نه وي، هغه راپاڅيدل به د اعمالو مطابق وي، مونږ چې په دې دنيا کښې څنګه عمل کوو، هم په هاغه انداز کښې، هم په هاغه شکل او صورت کښې، يا مطمئين يا په ويره، ښکلي يا بد رنګه، د پښيمانتيا او شرمنده کيدلو سره په ژړا يا په خوشحالئ کولو سره به راپاڅو. **الله** پاک فرمائي:

وَ اِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ﴿۴﴾ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ وَ اَخَّرَتْ ﴿۵﴾
(پارہ:30، اَلْاِنْفِطَار:4۔5)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او چې کله به قبرونه اوسپړدلے شي (٤) هر کس ته به معلومه شي څه چې هغه مخکښې اوليږل او څه چې هغه وروستو پريښودل (٥)

يعني چې کله قبرونه اوسپړدلے شي او مړي بيا راژوندي کړے شي او د حشر د پاره را اُووِيستلے شي، بيا به هر يو ګس ته پته اولګي چې هغه په دنيا کښې څه څه اعمال کړي دي، چا چې نيکئ کړې وي، هغوئي ته به هم پته اولګي او چا چې ګناهونه کړي وي، هغوئي ته به هم پته اولګي. [1]

## د قبرونو نه د راپاڅيدلو مختلف احوال

علّامه ابنِ جوزي رحمۃُ اللہِ علیہ ليکي: په روايتونو کښې راغلي دي چې بنده کله مړ شي نو که د هغه اعمال ښه وي او که بد، هغه اعمال د هغه د سر خوا ته راجمع شي، کله چې هغه له غسل ورکولے کيږي، کفن وراغوستلے کيږي، د هغه جنازه کيږي، په دې ټولو

1... تفسیر خازن، پارہ:30، الانفطار، زیر آیت:4-5، جلد:4، صفحہ:401 بتغیر قلیل.



www.dawateislami.net

وختونو کښې د هغه اعمال د هغه سره وي او بيا هم د هغه سره د هغه قبر ته کوز شي، خلق خو مړے ښخ کړي او واپس راشي خو اعمال د هغه سره په قبر کښې پاتې شي، بيا تر قيامته پورې د هغه سره دغه اعمال ورسره وي، تر دې چې کله قبرونه اوسپړدلے شي، مړي بيا راژوندي کړے شي، هغه وخت که د هغه اعمال که ښه وي او که بد، د هغه سره به د قبر نه راووځي، بيا چې کله د حساب د پاره دے د حشر د ميدان په لور ځي، د هغه ټول ښه او بد اعمال به راجمع شي، په هغې کښې به څه وړه يا څه غټه ګناه نه هيرولے کيږي، د هغه ښکاره او پټ ټول اعمال به مخې ته راشي. (1)

علّامه ابنِ جوزي رحمۃ اللہ علیہ په يو ځائے کښې ليکي: کله چې به خلق د قبرونو نه راپاڅي، هغه وخت به ورسره خپل اعمال هم راپاڅي، که هغه بنده فرمانبردار وي، نيکئ ئې کړې وي، د ګناهونو نه ئې ځان ساتلے وي نو د هغه اعمال به په دنيا کښې هم د هغه ملګرتيا کوي او چې کله هغه د قبر نه راپاڅي، هغه وخت به هم د هغه نيک اعمال هغه د قيامت د وحشتونو نه بچ کوي، د هغه سره به غم خوري کوي، د هغه سره به مينه او محبت کوي، کله چې به هم بنده د دوزخ په لور يا د قيامت وحشتناکو نظارو ته ګوري، د هغې نه به ويريږي، ژاړي به نو د هغه نيک عمل به وائي: يا حبيبي! اے زما محبوبه! دا هر څه (يعنې د دوزخ وور او د قيامت ويرې) ستا د پاره نه دي، د **الله** پاک فرمانبردارو له به دا سزا نه ورکولے کيږي، د دې سزا حق دار خو هغه دي چا چې د **الله** پاک نافرماني کړې وه، د هغه نبي ئې دروغ ګڼلي وې او په خپلو خواهشونو پسې روان شوي وو، اے محبوبه! تهٔ خو فرمانبرداره بنده ئې. (2)

---

[1]... بستان الواعظين، مجلس فی الحساب...الخ، عمل العبد يلازمه، صفحه:78.بتغير قليل.

[2]... بستان الواعظين، مجلس فی ذكر القيامة واهوالها، صفة الصور وملازمة...الخ، صفحه:30.

## اعمال به خلقو ته هرکلے وائي

حضرت عَمرو بن قيس رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مسلمان چې کله د خپل قبر نه راووځي نو د هغه عمل به په ښکلي شکل او د بهترينې خوشبوئي په شکل کښې هغه ته هرکلے وائي او هغه ته به وائي چې تهٔ ما پيژنې؟ بنده به وائي: تهٔ ډير ښائسته ئې، ډير خوشبوداره هم ئې خو زه تا نه پيژنم. د هغه ښه عمل به وائي: په دنيا کښې تهٔ هم داسې وې، ستا خوشبو (يعنې ستا کردار، ستا اعمال او ستا سيرت) ډير ښکلي وو، زه ستا نيک عمل يم، تر څو پورې چې تهٔ په دنيا کښې وې زه ستا په [په اُوګو] سور ووم (يعنې تهٔ مې د خواهشونو نه حصار ساتلے وې، او په نيکو کښې مې مصروفه ساتلے وې)، نن تهٔ زما په [اُوګو] سور شه.

دا به د نيک مسلمان حال وي او د کافر عمل به هغه ته هرکلے په بد او سخت بدبوداره شکل کښې وائي، کله چې [کافِر] بنده د قبر نه راپاځي نو د هغه بد عمل به راشي، پوښتنه به ترې اوکړي: آيا تهٔ ما پيژنې؟ کافِر به وائي: تهٔ څومره بد رنګه ئې، ستا نه څومره سخا بوئي ځي، زه تا نه پيژنم. د هغه بد عمل به وائي: تهٔ هم په دنيا کښې داسې بدبوداره وې، زه ستا بد عمل يم، په دنيا کښې تهٔ زما په اُوګو سور وې، نن به زه ستا په اُوګو سوَريږم. (1)

**الله! الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** لږ غور خو اوکړئ! د قيامت په ورځ به د قبرونو نه د راپاځيدو نظاره څومره خطرناکه او وحشتناکه وي، ټول مخلوق به د قبرونو نه راپاځي، هر يو به خپل خپل عمل وِيني، څوک به خپل عمل ډير بد رنګه او ډير بدبوداره وِيني، څوک به خپل عمل ډير ښائسته او خوشبوداره بياموي، څوک به په خپلو اعمالو

---

1... تفسير طبرى، پاره:7، الانعام، زير آيت:31، جلد:5، صفحه:178، رقم:13190 خلاصةً.



www.dawateislami.net

ليدلو شرميږي، څوک به راحت مومي، څوک به پښيمانه وي، څوک به خوشحالئ کوي، چا چې ښنګه عمل کړے وي، هغه شان ميوه به ئې خوري.

## د حشر د ويرې نه ئې رُوح اُووتلو

حضرت مِسوَر بن مَخرَمه رحمۃ اللہ علیہ ډير نيک بزرګ وو، يوه ورځ د هغوئي په مخکښې چا دا آيتونه اولوستل:

يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِيْنَ اِلَى الرَّحْمٰنِ وَفْدًا ﴿۸۵﴾ وَّ نَسُوْقُ الْمُجْرِمِيْنَ اِلٰى جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿۸۶﴾ (پ16، مريم:8685)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: ياد کړه په کومه ورځ چې به مونږه پرهيزګاره خلق د رحمٰن طرف ته ميلمانه جوړ کړي بوځو (۸۵) او مجرمان به د دوزخ په لوري تږي زغلوو(۸۶)

(اللّٰه! اللّٰه! په دې آيتونو کښې اووئيلے شول: څوک چې متقيان دي، پرهيزګاران دي، د ګناهونو نه بچ کيدلو والا او نيک اعمال کولو والا دي، کله چې د قبرونو نه راپاخي نو هغوئي به ميلمانه جوړ کړے شوي د اللّٰهُ رحمان په بارګاه کښې حاضر کړے شي او څوک چې مجرمان وي،ګناهونه کوونکي وي، هغوئي به د دوزخ په لور راښکلے کيږي.) کله چې حضرت مِسوَر رحمۃ اللہ علیہ دا آيتونه واوريدل نو د عاجزئ نه ئې اوفرمائيل: آه! زه مجرم يم متقي نه يم. اے تلاوت کوونکيه! دا آيتونه بيا اولوله: هغه بيا دا آيتونه اولوستل نو هغوئي د اللّٰه پاک د ويرې نه يوه چغه اُووهله او سمدستي ئې روح اُووتلو. (1)

اَللّٰهُ اَكْبَر! کاش چې مونږ ته هم د اللّٰه پاک نه د ويرې دولت رانصيب شي، آه! هغه وحشتناک منظر...!! آه! د قبر د کلونو د تنهائيئ نه پس د رَبِّ قهار په حُضُور کښې د حاضرئ وخت...!! د اللّٰه پاک پټ تدبير زمونږ په حق کښې څه دے مونږ ته پته نشته،

1 ...احياءعلوم الدين، کتاب الخوف والرجاء، بيان احوال الصحابة...الخ، جلد:4، صفحه:225.



www.dawateislami.net

آه! پته نه لګي چې د **الله** پاک د رحمت حق دار به جوړيږو او په ښه حالت کښې به د قبر نه راپاڅولے شو يا مجرمان جوړ شوي به راپاڅولے شو، مونږ ته پته نشته...!! **الله** دې نه کړي، **الله** دې نه کړي که مونږ مجرمان راپاڅولے شو نو يقين اوکړئ! د سختې پريشانئ سره به مخ شو.

## دا فيصله به هم نن کول وي

اے عاشقانِ رَسُول! کله چې به مړي راژوندي شي او د قبرونو نه به راپاڅي، هغه وخت له مونږ د ځان د پاره څه خوښوو؟ مونږ څه غواړو چې مونږ کله د قبر نه راپاڅو نو په کوم حال کښې راپاڅو، [آيا دا خوښوو چې] زما عمل ما له زيرے راکړي يا آيا دا خوښوو چې زما اعمال ما مايوسه کړي يعنې زما عمل زما د پاره سورلئ جوړه شي يا سخته بدبوداره شکل کښې زما په اُوګو سور شي؟ ما د دوزخ په لور راښکاږي يا ما له د جنت زيرے راکړي؟ مونږه څه غواړو؟ د دې فيصله مونږ له هم نن کول دي. مونږ چې په کوم حالت کښې د قبر نه راپاڅيدل غواړو، نن، په دې دنيا کښې به مونږ له هم هغسې عمل کول وي، که مونږ نيک عمل اوکړو نو په ځنکدن کښې، قبر کښې، حشر کښې، د قبر نه د راپاڅيدو په وخت، په پلِ صراط باندې به زمونږه [نيک عمل] زمونږه ملګرے او غم خور وي، زمونږه ملاتړ به جوړيږي او که نن مونږ بد عمل اوکړو، ګناهونه اوکړو، په تنهائيئ کښې مو په بے باکئ سره ګناهونه اوکړل، که دا خبره مو هيره کړه چې **الله** پاک ويني نو کله چې د قبر نه راپاڅو هغه وخت د سختې پښيمانتيا او شرم سره مخ کيدے شو. ځکه مونږ څه غواړو؟ مونږه د قبر نه څنګه راپاڅيدل خوښوو؟ د دې فيصله به مونږ له هم نن کول وي.



www.dawateislami.net

## هر څوک به په مختلف شکل کښې راپاڅي؟

يو ځل صحابئ رسول حضرت معاذ بن جبل رضی اللہ عنہ په بارګاهِ رسالت کښې عرض اوکړو: يا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ! په قرآنِ کريم کښې ارشاد دے چې په قيامت کښې به خلق ډلې ډلې راپاڅولے شي. د دې څه مطلب دے؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم اوفرمائيل: اے معاذه! تا د يوې لوئې معاملے په باره کښې پوښتنه اوکړه، د دې وئيلو سره د هغوئي د مبارکو سترګو نه اوښکې رواني شوې. بيا ئې اوفرمائيل: زما د اُمَّت خلق به په 10 قِسمونو راپاڅولے شي، الله پاک به دوئي د مسلمانانو د ډلې نه بيل کړي او د دوئي شکلونه به بدل کړي. په دوئي کښې به (1): بعضې د شادوګانو [بيزوګانو] په شکل کښې راپاڅولے شي (2): بعضې به هغه وي کوم چې به د خنزير په شکل راپاڅولے شي (3): بعضې به اُلټا راپاڅولے شي، د هغوئي ښپې به بره او مخونه به ئې لاندې وي، هغوئي به په مخونو باندې روان وي (4): بعضې به ړانده راپاڅولے شي، دوئي به په تَذَبْذُب يعنې پريشانئ کښې اخته وي (5): بعضې به ګونګيان او کاڼه راپاڅولے شي، هغوئي به په هيڅ نه پوهيږي (6): بعضې به خپلې ژبې ژووي او د هغوئي ژبې به د هغوئي د سينو پورې رازوړندې وي، کيازې [تيټنګې لاړې] به ئې د خُلو نه رواني وي، خلقو له به د هغوئي نه کرکه ورځي (7): بعضې به داسې راپاڅي چې د هغوئي لاسونه او ښپې به پريکړے شوې وي (8): بعضې به د وور په تنې پسې زوړند وي (9): بعضې به داسې راپاڅي چې د هغوئي سخا بوئي به د مُردارې نه هم زيات بد وي (10): بعضې به داسې راپاڅي چې هغوئي ته به د تارکولو خادرونه اچولے شوي وي کوم چې به د هغوئي په څرمنو پسې نښتي وي.

(دا به کوم خلق وي، د دې تفصيل بيانولو کښې د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم

اوفرمائیل): **(1):** کوم خلق چې به د شادوګانو [بیزوګانو] په شکل راپاڅولے شي دا چغل خواره دي **(2):** کوم خلق چې به د خنزیر په شکل راپاڅولے شي دا به رشوت خواره، د حرام مال ګټلو والا او په ظُلم ټیکس وصولولو والا وي **(3):** کوم خلق چې به اُلټا راپاڅي چې د هغوئي سرونه به ښکته او ښپې بره وي، دا سود خواره دي **(4):** کوم خلق چې به ړانده راپاڅولے شي، دا په بے انصافئ سره فیصلے کوونکي دي **(5):** کوم خلق چې به ګونګیان، کاڼه راپاڅولے شي، دا به هغه وي کوم چې په خپلو اعمالو باندې خپل ځان خوښولو کښې اخته دي **(6):** کوم خلق چې به داسې راپاڅي چې خپلې ژبې به ژُووِي، دا هغه بے عمله مُبلِّغِین دي چې څه وائي هغه نه کوي (یعنې نورو له د نیکئ دعوت ورکوي او پخپله په ګناهونو کښې اخته اوسي) **(7):** کوم خلق چې به پریکړے شوي لاسونه، پریکړے شوې ښپې بوندې راپاڅي، دا هغه خلق دي کوم چې ګاونډیانو ته تکلیف رسوي **(8):** کوم خلق چې به د وور په تنه پسې رازوړندولے شي، دا حاکِم ته د خلقو د دروغو شکایتونو رسولو والا دي **(9):** کوم خلق چې به د مُردار د سخا بوئي نه هم زیات بدبوداره راپاڅي، دا خلق د نفس په خواهشونو او خوندونو کښې پریوتونکي او د خپل مال نه **حقوق‌الله** (مثلاً زکوٰة، فطرانه وغیره) نه ادا کوونکي دي **(10):** او هغه خلق کومو ته چې به د تارکولو څادرونه اچولے شي، دا په غرور او تکبر کښې اخته کیدونکي دي. [1]

اللّٰه! اللّٰه! اے عاشقانِ رَسُول! په دې روایت باندې بیا بیا غور اوکړئ! د خپل ځان نه پوښتنه اوکړئ! ❁ **خوک دے چې هغه د قیامت په ورځ د شادو [بیزو] په شکل کښې** راپاڅیدل غواړي؟ یقیناً په مونږ کښې به څوک هم دا نه خوښوي، لِهٰذا هم د نن نه چغل

[1] ...التذکرة في احوال الموتی وامور الآخرة، باب بیان الحشر الی الموقف...الخ، صفحه: 179 ملتقطاً.



www.dawateislami.net

خوري پرېږدئ، مخکښې مو که چغل خورياني کړې وي نو د هغې نه توبه کړئ! ❁ **ځوک دے چې هغه د** خنزير په شکل کښې راپاڅيدل غواړي؟ **هيڅ ځوک هم نه غواړي...!!** لِـهٰذا رشوت اخستل، حرام مال ګټل، په ظلم سره ټيکس اخستل پرېږدئ! که مخکښې مو دا ګناه کړې وي نو توبه کړئ! ❁ **ځوک دے چې هغه** اُلټا پاڅيدل خوښوي؟ ❁ **په مونږ کښې ځوک دے چې هغه** د قيامت په ورځ ړوند، ګونګے، کوڼ راپاڅيدل غواړي؟ ❁ **ځوک دے چې هغه** پريکړے شوي لاسونه، پريکړے شوې ښپې بونډے راپاڅيدل غواړي؟ ❁ **ځوک دے چې هغه** د خپلې ژبې ځوړلو په حالت کښې راپاڅيدل خوښوي؟ ❁ **ځوک دے چې هغه** په وور پسې زوړند يا ډير بدبوداره يا په تارکولو کښې را انغښتے راپاڅيدل خوښوي؟ يقيناً په مونږ کښې به ځوک هم داسې حشر نه خوښوي، ځوک به هم دا نه غواړي چې زه په داسې بد حالت کښې د قبر نه راپاڅولے شم نو اے زما **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** که مونږ داسې حشر نه غواړو، په داسې بد حالت کښې د قبر نه راپاڅيدل نه خوښوو نو د دې د پاره خو به عمل هم کول غواړي، لِـهٰذا هم د نن نه سود پرېږدئ! ځوک چې واکداران دي، ځوک چې فيصلے کوي، د جرګو وغيره مشران جوړيږي، د عدالتونو مشران [ججان/ منصفان] دي، هم د نن نه د بے انصافۍ فيصلے پرېږدئ! د ځان خوښۍ (يعنې ځان د نيک پرهيزګاره ګڼلو) د آفت نه ځان خلاص کړئ! ❁ نورو له د نيکۍ د دعوت ورکولو سره سره د خپلې اصلاح ذريعه هم شروع کړئ! ❁ ګاونډيانو ته تکليف رَسَوَل پرېږدئ! ❁ د خلقو د دروغو شکايتونه، د دروغو مقدمے، د دروغو ايف آئي آر درج کولو نه توبه کړئ! ❁ د نفس په خواهشونو پسې د تللو او د دنيا په مزو کښې د ورکيدلو په ذريعه د رَبِّ رحمان د اطاعت او فرمانبردارۍ نه غفلت هيڅکله هم مه کوئ! ❁ د ځان غټ ګڼلو او د غرور او تکبر په آفت کښې د اخته کيدو نه هر وخت ځان ساتئ، که تر



www.dawateislami.net

اوسه پورې مو په دې کښې کله څه ګناه کړې وي نو په ويره ويره او د زړه پښيمانتيا سره د **اللّٰه** پاک په حضور کښې د زړه د اخلاصه توبه اوکړئ! که په دې ګناهونو کښې مو اخته ژوند تير شو، آه! **اللّٰه** دې نه کړي که د **اللّٰه** د رحمت نه محرومه پاتې شو نو يقين اوکړئ! هلاک به شو. آه! که د قبرونو نه د راپاڅيدو په وخت د عبرت نښه جوړ کړے شو **نو** زمونږ به څه کيږي...!!

## کافر چې کله د قبر نه پاڅي نو د هغه لاس به شيطان نيسي

حضرت سعيد جريري رضی اللہ عنہ فرمائي: ما ته دا روايت رارسيدلے دے چې د قيامت په ورځ چې کله کافر د قبر نه راپاڅي نو شيطان به د هغه لاس نيسي، هغه شيطان به هم د هغه سره وي تر دې چې **اللّٰه** پاک به دواړو ته دوزخ ته د تللو حکم اوفرمائي، هغه وخت به کافر وائي: اے کاش! زما او ستا ترمينځه د مشرق او مغرب همره لرې والے اوشي...!! تهٔ څومره بد ملګرے ئې! [(1)]

## د کُفر نه نفرت کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه مسلمانان يو، يقيناً دا د **اللّٰه** پاک ډير لوئې نعمت دے، زمونږه کلمه وئيل، مسلمانيدل به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دوزخ نه د بچ کيدو او جنت ته د تللو ذريعه جوړه شي خو ياد ساتئ! د دوزخ نه بچ کيدل او د جنت د حق دار جوړيدو د پاره صرف [په دې دُنيا کښې] مسلمان کيدل کافي نه دي بلکه د دنيا نه ايمان سلامت وړل هم ضروري دي.

ځکه مونږ له پکار دي چې د خپل ايمان فِکر اوکړو، **اللّٰه** پاک مونږ له د ايمان

---

1... تفسیر طبری، پارہ:25، الزخرف، زیر آیت:38، جلد:11، صفحہ:189، حدیث:30870.



www.dawateislami.net

دولت راکړے دے، چې د دې قدر هم اوکړو، د دې شکر هم ادا کړو او ورسره ورسره د کفر نه نفرت هم کوو. په **حديثِ** پاک کښې دي: په چا کښې چې **3** خبرې وي، هغه د ايمان خوږ والے بيامومي (په هغه دريو کښې ئې يوه خبره دا ارشاد کړله:) چې هغه د ايمان نه پس د کفر په لور بيرته ګرځيدل هُم داسې ناخوښه ګڼي، لکه څنګه چې وور ته غورځيدل ناخوښه ګڼي. (1)

معلومه شوه چې د ايمان والا پاتې کيدو، د ايمان د سلامتيا سره قبر ته د کوزيدو او د دې په ذريعه د جنت د حق دار جوړيدو د پاره ضروري دي چې مونږ د کفر نه هر وخت نفرت کوو.

## د ايمان د سلامتيا فِکر کوئ!

آه! افسوس! نن سبا د ايمان د سلامتيا فِکر د ډيرو کمو خلقو سره وي ✿ عموماً خلق په خپل نفس باندې باور کوي ✿ د بد مذهبو او بدو خلقو په صحبت کښې کښيناستل ✿ په ګناهونو کښې مصروفه اوسيدل ✿ مونږ څه زده کوو، د چا نه ئې زده کوو وغيره، د دې بالکل فِکر نه کول ✿ د عِلمِ دِين نه لرې تښتيدل ✿ د غير مسلمو نقل کول ✿ د هغوئي لټريچر بے دريغه لوستل ✿ د غير مستندو خلقو او د غير مستندو طريقو (مثلاً د سوشل ميډيا، انټرنيټ، يوټيوب، فيس بُک وغيره) په ذريعه د دِين زده کولو کوشش کول وغيره د ايمان نه د لاس وينځلو اسباب دي خو افسوس! نن سبا زياتره خلق په دې کارونو کښې اخته دي.

اے عاشقانِ رَسُول! **الله** پاک مونږ ته د ايمان دولت راعطا کړے دے نو مونږ له د دې قدر

---

1...بخاری، کتاب بدء الایمان، باب حلاوة الایمان، صفحہ:74، حدیث:16 ملتقطاً.

هم کول پکار دي، د دې حفاظت کول زمونږه ذمه واري ده، ځکه مونږ له پکار دي چې د **الله** پاک د پټ تدبير نه هر وخت ويريږو او هر وخت د ايمان د سلامتيا فِکر کوو.

## د مؤمن بنده شان

**الله** پاک دې مونږ ته د ايمان د سلامتيا دولت رانصيب کړي، کاش چې د رُوح وتلو په وخت کښې کَلِمه لوستل رانصيب شي، کاش چې قبر ته ايمان سلامت وړلو کښې کامياب شو، که داسې اوشو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! مزے به مو شي. آو جي! يو مسلمان ته چې به په آخرت کښې کوم انعامونه ميلاويږي، د هغې به څه وائي...!! د مسلمانانو د قبر نه د راپاڅيدو نظاره به هم ډيره شانداره او د رشک قابله وي. حضرت ثابِت بناني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې مؤمن بنده د قبر نه راپاڅي نو کراماً کاتبين يعنې اعمال ليکونکې دوه فرښتے به هغه ته هر کلے وائي او د قبر نه د راپاڅيدو سره سمدستي به ده ته وائي: اے مؤمِن بنده! غم مه کوه بلکه خوشحاله شه ستا د پاره هغه جنت دے د کوم چې ستا سره وعده شوې وه، بس **الله** پاک به هغه مؤمن بنده ته د ويرې نه امن ورعطا کړي، د هغه سترګې به يخې کړي او د قيامت د ورځې هغه مصيبت کوم چې به خلق راګير کړي، مؤمِن بنده به د هغه مصيبت نه محفوظ اوسي. (1)

## د خُلې نه به ئې وور راووځي...!!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** څوک به په کوم حالت کښې د قبر نه راپاڅي، واورئ! په **حديثِ پاک** کښې دي، د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د قيامت په ورځ به يو قوم د خپلو قبرونو نه داسې راپاڅولے شي چې د

---

1...التذكرة في احوال الموتى وامور الآخرة، باب ماجاء ان العبد المؤمن اذا قام...الخ، صفحه: 166 ملتقطًا.



www.dawateislami.net

هغوئي د خُلو نه به وور راووځي. پوښتنه اوکړے شوه: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! دا به کوم خلق وي؟ اوئې فرمائيل: (ځوک چې د يتيمانانو مال په ناحقه خوري) آيا تاسو د الله پاک دا فرمان نه دے لیدلے: [1]

اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰى ظُلْمًا اِنَّمَا یَاْكُلُوْنَ فِیْ بُطُوْنِهِمْ نَارًاؕ وَ سَیَصْلَوْنَ سَعِیْرًا۠ ⑩ (پاره:4، النساء:10)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بيشکه هٰغه خلق چې په ظُلم سره د يتيمانو مال خوري هغوئي په خپلو خيټو کښې بالکل وور اچوي او نزدې ده چې دا خلق به لـمبے وهونکي وور کښې داخل شي.

اَللّٰهُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! لږ تصور خو اوکړئ! دا به څومره وحشتناکه نظاره وي...!! چې شپيلئ پو کړے شوې ده، خلق د خپلو خپلو قبرونو نه راپاځي، بيا هغه خلق کومو چې په دنيا کښې د يتيمانو مال په ناحقه خوړلے وي، هغوئي به په دې حالت کښې د قبر نه راپاځي چې د هغوئي په خيټو کښې به وور بَل وي او د هغې لـمبې به ئې په خُلو باندې بهر راووځي. آه! د ټول محشر والؤ په مخکښې به دا څومره د رسوائيئ سبب وي، هغه ګنهګار به د سخت تکليف سره سره څومره د شرم سره هم مخ وي. ځکه نن وخت دے چې څوک د يتيمانو مال په ناحقه خوري، هغوئي له پکار دي چې د الله پاک د عذاب نه ويرېږي او سمدستي توبه اوکړي، څومره مال ئې چې تر ننه پورې د يتيمانانو خوړلے دے، هغه دې واپس هم ورکړي او د معافئ دې هم ځه لار راوباسي.

## د يتيم مال په ناحقه مه خورئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د يتيم مال په ناحقه د خوړلو ډير صورتونه کيدے

[1]...مسند ابي يعلى، حديث ابي برزة الاسلمى عن النبى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:5، صفحه:450، حديث:7437.



www.dawateislami.net

شي، مثلاً ❁ يو کَس وفات شو، د هغه په وارثانو کښې يو يتيم ماشوم هم دے، اوس د وراثت د تقسيم نه مخکښې په ميراث (يعنې په وروستو پريښودے شوي مال) کښې د دريمې، د جُمعے يا د څلويښتمې وغيره ختم نشي کولے ځکه چې په دې کښې د يتيم حق هم شامل دے. ځکه په داسې حالت کښې د دريمې وغيره د ايصالِ ثواب خرچے د بيل رقم نه کول پکار دي ❁ يتيم ماشوم د ميراث نه محرومه کول، د هغه په مال باندې ناحقه قبضه کول وغيره دا ټول د يتيم د مال په ناحقه د خوړلو صورتونه دي کوم چې زمونږ په معاشره کښې نن سبا عام دي. **الله** پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي، کاش چې مونږ ته تقوىٰ رانصيب شي، پرهيزګاري رانصيب شي، کاش چې مونږ د خپل ژوند په هره معامله کښې د شرعي راهنمائيئ حاصلولو عادت جوړ کړو. **الله** پاک دې مونږه د ناحقه مال خوړلو د آفت نه محفوظ کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم .

## د نيکانو خلقو د قبر نه د راپاڅيدو نظاره

اے عاشقانِ رَسُول! کله چې قبرونه اوسپړدلے شي، مړي راژوندي کړے شي، هغه وخت به ګنهګاران په سخته پريشانئ او تکليف کښې راپاڅولے شي ❁ هم دغسې کوم چې نيکان خلق دي ❁ د دې دنيا ژوند په نيکو کښې تيروي ❁ د دنيا د محبت، مال او دولت د لالچ، عيش و عِشرت او فضولياتو نه لرې اوسيږي او خپل ژوند د **الله** پاک د رضا والا کارونو د پاره وقف کړي، داسې خلق چې کله د قبرونو نه راپاڅي ❁ د هغوئي خو به په مزو سر وي ❁ د هغوئي حالت به قابلِ رشک وي ❁ **په هغوئي کښې به بعضې هغه وي کومو ته چې به د قبر نه د راپاڅيدو سره زيرے ورکړے شي** ❁ **بعضې به هغه وي** چې د هغوئي نيک اعمال به ډير په ښه او ښکلي شکل کښې هغوئي ته هرکلے وائي ❁ **بعضې**



www.dawateislami.net

**خلق به هغه وي** کومو ته چې به سورلۍ ورانديې کړے شي او هغوئي به په سورلو کښيني او د حشر ميدان ته به روان شي او ❁ **بعضې خو به هُغه خوش قِسمته وي** چې هغوئي ته به د قبر نه د راپاخيدو سره وزرې عطا کړے شي او هغوئي به په آلوتلو جنت ته اورسي حالانکه خلق به لا په حساب کتاب کښې مصروف وي.

سُبْحٰنَ اللّٰه! د نيکانو خلقو به څومره ښکلې شانونه وي، کوم نيک بنده به د قبر نه ځنګه راپاڅولے شي، راشئ! **حديثونه مبارک** واورئ!

## کلمه طيبه لوستونکي

د صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عمر رضی اللہ عنہ نه روايت دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: څوک چې لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ لولي، د هغوئي سره به نۀ د مرګ په وخت ويره وي، نه به پرې په قبر کښې دننه ويره وي، نه به پرې د قبر نه د راپاڅيدو په وخت څه ويره وي. د غيبو خبرونه ورکوونکي نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم نور اوفرمائيل: ګويا چې زه وينم (چې شپيلۍ پو کړے شوې ده مَړي د قبرونو نه راووځي او) مسلمانان کوم چې کلمه طيبه لولي، (او په دې باندې ايمان هم لري [هغوئي]) د خپلو سرونو نه خاوره څنډي او د دې وئيلو سره راپاڅي:[(1)]

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْۤ اَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَؕ (پاره:22، فاطر:34)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ټول صفات هُغه الله لره دي چا چې زمونږ نه غم لرې کړو.

حَسْبِیْ رَبِّی جس نے کہا، فیض کے دریا کو پایا
گوہرِ مقصد ہاتھ آیا، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه

---

1... معجم اوسط، من اسمه يعقوب، جلد:6، صفحه:480، حديث:9478 بتغير قليل.



www.dawateislami.net

کُھل جائیں دَر جنّت کے، دوزخ کی سب آگ بجھے
دِل سے کوئی اک بار کہے لَا اِلٰہَ اِلَّا اللہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کلمهٔ طيبه مضبوطه قلعه ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د کلمے طيبے ډير فضيلتونه دي ❁ دا د ټولو نه افضل ذِکر هم دے ❁ بهترينه وظيفه هم ده ❁ د هُم دې کلمے په لوستلو غير مسلمه مسلمانيږي ❁ د هُم دې مبارکې کلمے د رښتوني زړه نه د لوستلو په برکت سره د غير مسلمه ټول ګناهونه وينځلے شي او هغه د جنّت حق دار جوړ شي ❁ په حِلیَۃُالاَولِیاء کښې دي: د دواړو جهانونو مالک او مختار، مکي مدني سرکار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم اوفرمائيل: الله پاک ارشاد فرمائي: بے شکه هم زه الله يم، زما نه سِوا څوک هم د عبادت لائق نشته، پس (اے خلقو!) هم زما عبادت کوئ! په تاسو کښې چې څوک زما په بارګاه کښې په رښتوني زړه سره د لَااِلٰہَ اِلَّااللہ د ګواهئ سره راشي، هغه به زما په پناه کښې داخل شي او څوک چې زما په پناه کښې داخل شي، هغه زما د عذاب نه محفوظ شو.[1]

میں ہوں بندہ، وہ مولیٰ، کون ہے اپنا اس کے سوا | میں ہوں اس کا، وہ ہے مرا، جس نے بنایا اور پالا

لَا اِلٰہَ اِلَّا اللہ اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللہ

## مؤذِّنين به د قبر نه په اذان کولو کولو سره راپاڅي

د صحابئ رسول حضرت جابِر رضی اللہ عنہ نه روايت دے د الله پاک آخري نبي، رسولِ

1...حِلیَۃُ الْاَوْلِیاء، جلد:3، صفحہ:224، حدیث:3780.



www.dawateislami.net

هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بے شکه اذان کوونکي او تلبيه (يعنې لَبَّیْک اللّٰھم لبیک لوستونکي) به د قيامت په ورځ د قبرونو نه د اذان کولو او تلبيه لوستلو سره راپاڅي.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! غور اوکړئ! اذان کول څومره د فضيلت والا کار دے. کاش! مونږ ته هم په جُمات کښې د اذان کولو توفيق رانصيب شي، اذان کوئ، که ممکنه وي نو صرف او صرف د الله پاک د رضا د پاره د پينځه واړه لمونځونو اذانونه کوئ، که داسې نشئ کولے نو هره ورځ په جمات کښې د څه نا څه لمونځونو د اذانونو کولو نيت اوکړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې به په دنيا کښې هم برکتونه درنصيب شي او په قبر کښې به هم برکتونه درنصيب شي او که الله پاک اوغوښتل نو د قبر نه د راپاڅيدو په وخت به هم د اذان کولو سره راپاڅيدل درنصيب شي.

## د اذان کوونکي د پاره تحفه

د مصطفٰے کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 فرامين: (1): د اذان کوونکي آواز چې تر کوم ځائے پورې رسي، د هغه د پاره بخښنه کيږي او هره لمده او وچه کومې چې د هغه آواز واوريدو د هغه د پاره د بخښنې دعا کوي.[2] (2): کله چې اذان کوونکے اذان کوي د آسمان دروازے برسيره کړے شي او دعا قبليږي.[3]

## د لمونځ د پاره د زر تلونکي فضيلت

په مکاشفة القلوب کښې دي: کله چې قيامت قائم شي، هغه وخت به د قبرونو نه

---

1... معجم اوسط، من اسمہ حلف، جلد:2، صفحہ:366، حدیث:3558.
2... مسند امام احمد، مسند عبد اللہ بن عمر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہما، جلد:3، صفحہ:353، حدیث:6346.
3... مستدرک، کتاب الدعاوالتکبیر...الخ، باب اجابۃ الاذان...الخ، جلد:2، صفحہ:243، حدیث:2048.



www.dawateislami.net

**(1):** يوه داسې ډله راشي د هغوئي مخونه به د پرقيدونكو ستورو په شان وي، فرښتے به د هغوئي نه پوښتنه كوي: ستاسو عَمل څه وو (د كوم په بركت سره چې ستاسو دا سعادت نصيب شو)؟ هغوئي به عرض كوي: مونږ چې به اذان واوريدو نو ټول كار به مو پريښودو او اوداسه ته به پاڅيدلو. **(2):** بيا به يوه داسې ډله راشي چې د هغوئي مخونه به د سپوږمۍ په شان وي، فرښتے به ترينه پوښتنه كوي: تاسو به څه عمل كولو؟ هغوئي به وائي: مونږ به د وخت نه مخكښې اودس كولو او د لـمونځ د پاره به تياريدلو. **(3):** بيا به يوه بَله ډله راشي، د هغوئي مخونه به د نمر په شان روښانه وي، فرښتے به د هغوئي نه د عمل [په باره كښې] پوښتنه اوكړي، هغوئي به وائي: مونږ به اذان په جمات كښې اوريدلو (يعنې د اذان نه مخكښې به مو جُمات ته ځان رَسَوَلو). [(1)]

| | |
|---|---|
| جنت میں نرم نرم بچھونوں کے تخت پر | آرام سے بٹھائے گی اے بھائیو! نماز |
| رحمت کے شامیانوں سے خوشبو کے ساتھ ساتھ | ٹھنڈی ہوا چلائے گی اے بھائیو! نماز |
| ابر رحمت جھوم کر برسے گا ہوجائے گی دور | قحط سالی کی مصیبت تم پڑھو دل سے نماز |
| دور ہوں بیماریاں بے کاریاں ناکامیاں | دل میں داخل ہو مسرت، تم پڑھو دل سے نماز |

## د خُلې نه به ئې خوشبوئي روانه وي

حضرت انس بن مالک رضی اللہ عنہ فرمائي: كله چې به قيامت قائم شي، هغه وخت به روژه دار په داسې شان سره د قبرونو نه راووځي چې د هغوئي د خُلو نه به د مشكو په شان تيزه خوشبوئي ځي، هغوئي به د خپلې خوشبوئي نه پيژندلے شي. بيا چې به كله دوئي د حشر ميدان ته اورسي نو د دوئي د پاره به دسترخوان غوړولے شي، په هغې باندې به

[1]... قوت القلوب، الفصل الثالث والثلاثون...الخ، ذکر الحث علی المحافظۃ...الخ، جلد:2، صفحہ:168.



www.dawateislami.net

خوراک کيښودے شي. دوئي ته به حکم کيږي: اوخورئ چې تاسو به هاغه وخت اوږي اوسيدلئ، کله چې به خلقو په مړه ګېډه خوراک کولو، اوڅښئ! چې تاسو به هاغه وخت تږي اوسيدلئ، کله چې به خلقو په مړه ګېډه اوبه څښلې. بس دا خوش قسمته به خوري، څښي او آرام به کوي او خلق به ستړي او تږي په حساب کتاب کښې مصروف وي. [1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! غور اوکړئ! څومره آساني نيکئ دي، کلمه طيبه لولئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! نه به درته د مرګ په وخت څه ويره وي، نه به مو په قبر کښې دننه ويره وي او کله چې به د قبر نه راپاځئ، هغه وخت به مو هم زړه مطمئين وي، په زړه کښې به مو هيڅ ويره نه وي ❀ د اذان کولو عادت جوړ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د قبر نه به اذان کولو کولو سره راپاځئ ❀ د پينځه وارو لمونځونو د جمعې سره د کولو، د اذان کيدو سره بلکه د اذان نه مخکښې اودس کوئ او د لمونځ د پاره تياريږئ بلکه اذان په جمات کښې د اوريدو عادت جوړ کړئ! که اللّٰه پاک اوغوښتل نو د قيامت په ورځ به د پړقيدونکي مخ سره راپاځئ ❀ د روژو نيولو عادت جوړ کړئ! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژے خو فرض دي، هغه خو خامخا نيول دي، د دې سره سره د نفل روژو عادت هم جوړ کړئ! که صحت اجازت درکوي، په فرائضو او واجباتو ادا کولو کښې او حلال رزق ګټلو کښې درته څه مشکل نه وي نو هره ورځ روژه نيسئ! که دا نه شي کيدے نو کم از کم په هفته کښې يوه روژه نيسئ! بلکه د ګُل مبارک د ورځې د روژے نيولو عادت جوړ کړئ چې زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر ګُل په ورځ روژه نيوله [2] د هر زيارت په ورځ د روژے نيولو عادت جوړ کړئ! که ممکنه وي نو د

---

1...زهر الفردوس، من حرف الالف، فصل فى الاوامر، جلد:1، صفحه:785، حديث:381.

2... مسلم، کتاب الصيام، باب استحباب صيام ثلاثة ايام...الخ، صفحه:423، حديث:1162 ماخوذًا.



www.dawateislami.net

هرې مياشتې په اَيَّامِ بِيْض (يعنې د اسلامي مياشتې په 13، 14 او 15 تاريخ باندې روژې نيسئ)، اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د قبر نه به داسې پاڅيدل درنصيب شي چې د خُلې نه به مو د مشکو خوشبوئي ځي، د محشر والا به روژه دار د دې خوشبوئي نه پيژني او که الله پاک اوغوښتل نو د حشر په ميدان کښې چې کله خلق د نفسي نفسي په حالت کښې وي، د تودې تانبے زمکه... وور را وروونکے نمر... په دغه وحشتناکه ګرمئ کښې به خلق په خولو کښې لامبي، بعضې خو به په خپلو خولو کښې غوپې وهي، سخته لوږه او تنده به وي، په داسې وحشتناکه ورځ کښې، په داسې وحشتناکو حالاتو کښې به خلقو سره د حساب کتاب فِکر وي او روژه دار به ښه په خوند په دسترخوان باندې دعوت خوري. الله پاک دې مونږ له د دې نيکو اعمالو توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## د قبرونو نه په آلوتلو جنّت ته داخليدونکي

په يو حديثِ پاک کښې دي: کله چې د قيامت ورځ شي نو الله پاک به زما د اُمت يوې ډلې ته وزرې عطا کړي، د کومو په ذريعه چې به هغوئي د خپلو قبرونو نه په آلوتلو جنّت ته لاړ شي او هلته چې څنګه غواړي مزے به کوي. ❀ بيا به فرښتے د هغوئي نه پوښتنه کوي: آيا ستاسو سره حساب شوے دے؟ هغوئي به وائي: زمونږ سره حساب نه دے شوے. ❀ فرښتے به بيا پوښتنه اوکړي: آيا تاسو په پل صراط راتير شوي ئيئ؟ هغوئي به جواب ورکړي: مونږ پل صراط نه دے ليدلے. ❀ فرښتے به بيا پوښتنه اوکړي: آيا تاسو دوزخ اوليدلو؟ هغوئي به وائي: مونږه هيڅ څيز نه دے ليدلے. بيا به فرښتے دوئي ته وائي: تاسو د چا اُمتيان ئيئ؟ هغه خوش قسمته جنتيان به وائي: مونږ د امام الانبياء حضرت مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمتيان يو. فرښتے به وائي: مونږ تاسو له د الله پاک قسم



www.dawateislami.net

درکوو، اووائيئ په دنيا کښې ستاسو اعمال څه وو؟ هغوئي به جواب ورکوي: زمونږه دوه عادتونه وو، د کومو په وجه چې د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم سره دې مرتبے ته راورسيدو: **(1):** مونږ به په تنهائيئ کښې هم د **اللّٰه** پاک د نافرمانئ نه حيا کوله او **(2):** مونږ به د **اللّٰه** پاک په عطا کړے شوي لږ رزق باندې راضي اوسيدلو.[1]

| | |
|---|---|
| تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے |
| اپنی رِضا کا دیدے مژدہ | یااللّٰہ! مری جھولی بھر دے[2] |

اَللّٰهُ اَكْبَر! اے عاشقانِ رَسُول! اندازه اولګوئ! د قيامت 50 زره کاله اوږده ورځ، خلق به د قبرونو نه پاڅي او د حشر ميدان ته به ځي، آه! هغه د تانبے سرۀ شوې توده زمکه، پاؤ باندې يو ميل بره په سر باندې ولاړ وور وروونکے نمر، سخته ګرمي، بيا اعمال نامه په لاسو کښې ورکول کيدل، د حساب کتاب معامله، بيا په پل صراط باندې د تيريدو مرحله، پل صراط هم څنګه؟ د ويښته نه نرے، د تورې نه تيره، د 1500 کاله مزل لاره، دلته به خلق دومره په وحشتناکو مشقتونو کښې اخته وي او هلته به د **اللّٰه** پاک په رضا باندې راضي اوسيدونکي او په تنهائيئ کښې هم د خپل **رَبِّ** کريم د نافرمانئ نه بچ کيدونکي د قبرونو نه په آلوتلو جنّت ته اورسي، نۀ به د حشر د ميدان ګرمي اوويني، نه حساب کتاب، نه پل صراط...!! سُبْحٰنَ اللّٰه! اندازه اولګوئ! دا به څومره خوش قسمته وي. کاش! چې مونږ هم داسې شو، کاش چې مونږ هم د **اللّٰه** پاک په رضا باندې راضي کيدونکي، په تنهائيئ او د خلقو په وړاندې د ګناهونو نه بچ کيدونکي او د خپل **رَبِّ** کريم فرمانبرداره بندګان جوړ شو.

---

1...قوت القلوب، شرح مقام التوكل ووصف احوال المتوكلين، جلد:2، صفحه:65.
2...وسائل بخشش، صفحه:123.



www.dawateislami.net

## د الله پاک په رضا بانديې د رضا اوسيدو طريقې

پيرانِ پير، حضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادِر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ د **الله** پاک په رضا بانديې د راضي اوسيدلو دوه آساني طريقې ښودلي دي، هغوئي فرمائي: **(1):** څوک چې د **الله** پاک په رضا بانديې راضي اوسيدل غواړي، هغه له پکار دي چې مرګ هميشه ياد ساتي ځکه چې مرګ د دنيا مصيبتونه آسانوي **(2):** په کومه خبره بانديې چې په زړه کښې ګِيله راشي، بنده له پکار دي چې په هغه خبره د ګِيلې په ځائې، د **الله** پاک نه سوال اوکړي، مثلاً په چا غريبي راغله يا څوک بيمار شو، بيا د ده په زړه کښې وسوسې راځي نو ده له پکار دي چې د غريبئ يا بيمارئ ګيله نه کوي بلکه د **الله** پاک په بارګاه کښې سوال کوي: يا **الله** پاکه! زما غريبي ختمه کړې، يا **الله** پاکه! ما له د دې مرض نه شِفا راکړې. داسې دې خپل زړه د ګيلو قيصو په ځائې، په دعا کښې مشغول ساتي. د دې په برکت به ئې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زړه هُم سپک شي او که **الله** پاک اوغوښتل نو د رَبِّ کريم په رضا بانديې به د رضا کيدو توفيق هم ورنصيب شي. [1]

## توبه کوونکي او نهٔ توبه کوونکي

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! کله چې به قيامت قائم شي، قبرونه به برسيره شي، مړي به بيا راژوندي کړے شي، هغه وخت به د ګنهګارانو حال څه وي؟ دا هم مونږ واوريدل او نيکان خلق به په کوم ښکلې شان د قبرونو نه راپاخي، دا هم مونږ واوريدل. اوس فيصله په مونږ ده چې مونږ په کوم حالت کښې د قبر نه راپاخيدل غواړو، دا مونږ له سوچ کول دي، هم مونږ له فيصله کول دي. يقين اوکړئ! که ژوند مو په ګناهونو

---

1...الفتح الربانی، صفحہ:111.



www.dawateislami.net

کېنبي تیریږي او **الله** دې نه کړي که د **الله** پاک د رحمت نه **محرومه** پاتې شو نو په قبر کښې، د قبر نه د راپاڅېدو په وخت او د حشر په میدان کښې به د سختو مشکلاتو سره مخ شو، آه! که زمونږه حشر د ګنهګارانو سره اوشو، د قبر په عذابونو کښې ګرفتار شُو، د قبر نه د راپاڅېدو په وخت مو مخ وران شو، زمونږه بد اعمال زمونږه په اُوګو باندې سواره شول، مونږه ړانده، ګونګیان، کاڼه راپاڅولے شو، د قبر نه د راپاڅېدو په وخت زمونږه بدو اعمالو مونږ ته هرکلے اووئیلو نو یقین اوکړئ! چې تباه و برباد به شو، آه! زمونږه دا کمزورے بدن به د قبر او حشر وحشتونه، د دوزخ عذابونه هیڅکله هم برداشت نکړے شي. ځکه نن زمونږ سره وخت دے، ساه ګانې مو جارې دي، ژوند مو لا باقي دے، مونږ له پکار دي چې دا غنیمت اوګڼو، نن او هم اوس په دې ساعت پخه او رښتونې توبه اوکړو، نن او د اوس نه ګناهونه پرېږدو او د نیکئ په لاره روان شو، زمونږه **الله** پاک ډیر مهربانه دے، د هغه رحمت ډیر لوئي دے، هغه په خپله دروازه باندې سر ټیټوونکي چرې هم نه مایوسه کوي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! هغه به زمونږه توبه قبوله کړي او که **الله** پاک اوغوښتل نو په قبر او حشر کښې به آسانئ رانصیب شي.

په روایتونو کښې دي: **الله** پاک خپل نبي حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام ته وحي اولیږله اے آدم (عَلَیْهِ السَّلَام)! ستاسو په اولاد کښې چې څوک هم ما نه سوال کوي، زه به د هغه سوال قبلووم، څوک چې زما نه د بخښنې سوال کوي، زه به هغه نۀ نا امیده کووم، زه دعا قبلوونکے یم، زه به توبه کوونکي د هغوئي د قبرونو نه داسې راپاڅووم چې هغوئي به مُسکي وي او د هغوئي دعاګانې به قبولې وي. (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا د توبه کوونکو شان دے، هغوئي به د خپلو قبرونو نه په مُسکا مُسکا

---

[1]... مکاشفة القلوب، باب فی بیان الامانة والتوبة، صفحه: 82.



www.dawateislami.net

راپاڅي او څوک چې توبه نه کوي، ګناه نه پرېږدي، ضِد کوي، په ګناهونو باندې ګلک ولاړ وي، [او وائي چې] نن نه سبا، سبا نه بله ورځ، که بله ورځ نه وي نو راتلونکې مياشت، که راتلونکې مياشت نه وي نو په رمضان کښې، که په دې رمضان کښې نه وي نو په راتلونکي رمضان کښې به توبه کووم، هم داسې په نن سبا، نن سبا کولو کښې په توبه کښې د لم ليټ نه کار اخلي، آخر د توبې نه بغير د قبر کندې ته کوز شي، د قبرونو نه د راپاڅيدو په وخت به د هغوئي حال څه وي؟ واورئ! خوږ آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دا ګنهګاران خلق...!! په دوئي کښې چې څوک بغير د توبې کولو مړ شي، د قيامت په ورځ به **الله** پاک دوئي د قبرونو نه هم هغسې راپاڅوي، څنګه چې دوئي په دنيا کښې وو، کله چې به هم اودرېږي، چکر به پرې راځي او راغورځيږي به. (1)

اے عاشقانِ رَسُول! اوس لا زمونږ سره وخت شته، مونږ ژوندي يو، د توبې په لور لاړ شئ! نن او هم اوس د رښتوني پښيمانتيا سره، د خپلو ګناهونو يادولو سره په ژړا ژړا د **الله** پاک په حُضُور کښې د زړه د اخلاصه پخه توبه اوکړئ! او دا پخه اراده اوکړئ چې د نن نه پس به هيڅ ګناه نه کووم. **الله** پاک دې مونږ ته د ګناهونو نه د بچ کيدو او بيا بيا د توبې کولو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک لـمونځ ګزاره جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو جذبه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک **دعوتِ اسلامي** د

1...ابن ماجه، کتاب الحدود، باب المختثين، صفحه:422، حديث:2613 خلاصة.



www.dawateislami.net

ديني ماحول سره تړون اوکړئ او په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره پوره برخه اخلئ! د دې په برکت به اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه درنصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **هفته واره اجتماع** ده. ❀ **د هر زيارت په ورځ د ماښام د لمانځه نه پس** د دعوتِ اسلامي هفته واره اجتماع کيږي، په دې کښې تلاوت، نعت، د سنتو نه ډک بيان، ذِکر او زړه نرموونکې دعا کيږي ❀ **تاسو ته خواست دے** ❀ چې تاسو هم په دې هفته واره اجتماع کښې په پابندئ سره شرکت کوئ! ❀ په ديني اجتماع کښې د کښيناستو او د ذِکر کوونکو خومره ښکلے شان دے چې د حديثِ پاک مطابق څوک چې د دوئي په خوا کښې کښيني، هغه هم بدبخته نه پاتې کيږي [1] ❀ اَلْحَمْدُلِلّٰه! په هفته واره اجتماع کښې ذِکر کيږي ❀ عِلم دِين زده کيږي ❀ په نيک صحبت کښې کښيناستل او ❀ په جُمات کښې وخت تيرول نصيب کيږي ❀ يو اهم برکت دا چې د ديني اجتماع د پاره تلل هم د الله پاک په لاره کښې وَتل دي، چې هفته واره اجتماع ته تشريف راوړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د کور نه د وتلو نه واخله تر واپس تللو پورې ټول وخت به مو د الله پاک په لار کښې شميرلے کيږي ❀ د هر زيارت په ورځ په پابندئ سره په **هفته واره اجتماع** کښې د اَوَّل نه تر آخره پورې د شرکت کولو پوخ نيت اوکړئ چې اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيم! د هر زيارت په ورځ به په پابندئ سره ځپله هم په هفته واره اجتماع کښې شرکت کووم او د نيکئ د دعوت ورکولو په ذريعه به نور هم د ځان سره بوځم.

## شُوکمار توبه کړه

په کراچئ کښې په يو ځائے کښې د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بيان وو، يو اسلامي ورور په هغه اجتماع کښې د شرکت په غرض روان شو، څنګه چې په يوه تنګه

[1]... مسلم، کتاب الذکر والدّعا...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحہ:1037، حدیث:2689.



www.dawateislami.net

او تياره کوځه کښې ورتاو شو، يو شُوکمار ورله په مرئ چاړه کيښوده او په رُعب دار آواز ئې اووئيل: څه چې هم درسره وي راوباسه. هغه اسلامي ورور ډير په نرمئ سره اووئيل: څه چې تا ته ميلاويږي واخله، شوکمار د جيبونو تالاشي شروع کړه، د يو جيب نه د عطرو بوتل، نو د بل نه ئې تسبيح [تسپې] راوتلې. شوکمار په غصه کښې اووئيل: چرته روان ئې؟ اسلامي ورور ورته ډير په نرمئ سره اووئيل: زمونږ د شيخ طريقت، اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بيان دے، په هغې کښې د شرکت د پاره ځم. دا ئې چې واوريدل نو شوکمار خاموشه شو، د هغه د خاموشئ نه اسلامي ورور دا فائده واخسته چې هغه له ئې د نيکئ دعوت ورکړو او اوئې وئيل: تاسو هم اجتماع له لاړ شئ! په نرمه لهجه کښې د خلوص نه ډک دعوت اثر اوکړو او شوکمار اووئيل: ځه زه هم ځم. اجتماع کښې ئې د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ديدار اوکړو او بيان ئې واوريدو، د اجتماع نه پس هغه شوکمار د نيکئ دعوت ورکوونکي اسلامي ورور له هغه چاړه ورکړه او اوئې وئيل: دا ستاسو شوه، اوس ما ته د دې حاجت نشته ځکه چې ما د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړه او د اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په ذريعه د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيه مُريد او عطّاري جوړ شوے يم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بهارِ شريعت (*Bahar e shariyat*) موبائل ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رَسُول! نن سبا د ټيکنالوجئ دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريک **دعوتِ اسلامي** د سمارټ فون (***Smart phone***) په ذريعه هم د عِلمِ دين عام کولو کوشش کوي. دې لړ کښې د دعوتِ اسلامي د ***I.T***



www.dawateislami.net

ډيپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري کړے شوي دي، چې په هغو کښې يو موبائل ايپلي کيشن دے: بهارِ شريعت. ❁ د مولانا امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د ډير اعلیٰ کتاب **بهارِ شريعت** درې واړه جلدونه په دې ايپلي کيشن کښې شامل کړے شوي دي ❁ په دې ايپلي کيشن کښې د بُک مارک (***Bookmark***) سهولت موجود دے ❁ فهرست پکښې موجود دے د دې سره سره فهرست کښې د سرچ (***Search***) آپشن هم پکښې موجود دے ❁ د څيزونو د سليکټ (***Select***) کولو، کاپي (***Copy***) کولو او شيئر (***Share***) کولو آپشنز (***Options***)هم پکښې موجود دي.

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د څينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنۡ اَحَبَّ سُنَّتِیۡ فَقَدۡ اَحَبَّنِیۡ وَمَنۡ اَحَبَّنِیۡ كَانَ مَعِیۡ فِی الۡجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغوئي زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغوئي به په جنّت کښې زما سره وي. [(1)]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اُوده کيدلو سُنتونه او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان: څوک چې د

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343.



www.dawateislami.net

مازدیګر نه پس اوده شي او د هغه عقل لاړ شي نو هغه دې خپل ځان ملامته کوي. [(1)]

اے عاشقانِ رَسُول! د اوده کیدو نه مخکښې بستره ښه څنډئ چې که څه ضرر رسوونکے څیز وغیره پکښې وي چې هغه لرې شي ❀ د اوده کیدو نه مخکښې دا دعا لولئ اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَ اَحْیَا. ترجمه: یا **الله** پاکه! زه ستا د نوم سره مرم او ژوندے کیږم (یعني اوده کیږم او راپاڅم) ❀ د ورځې په وړومبنئ حصه کښې [یعني د نمر ختلو نه مخکښې] اوده کیدل یا د ماښام او ماسخُتن په مینځ کښې اوده کیدل **مکروه** دي. ❀ماسپښین کښې قیلوله (یعني لږ وخت خملاستل) مستحب دي ❀ په اوده کیدو کښې مستحب دا دي چې په اوداسه کښې اوده شې د لږ وخت د پاره په ښي اړخ او ښے لاس د مخ لاندې کیږدي او مخ په قبله اوده شي بیا د هغې نه پس په ګَڅ (یعني کیڼ) اړخ. ❀ د اوده کیدو په وخت قبر کښې ملاسته یاده کړئ چې هلته به یواځې خملاستل وي، د خپلو اعمالو نه علاوه بل هیڅ څیز به درسره نه وي ❀ د خملاستو په وخت د **الله** پاک په یاد کښې مشغول اوسیږئ، تَهْلِیل و تسبیح وتحمید لولئ (یعني د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، سُبْحَانَ الله، او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وظیفه لولئ) تر دې چې اوده شئ، چې په کوم حالت کښې انسان اوده شي په هغې پاڅیږي او په کوم حالت چې مړ کیږي د قیامت په ورځ به په هغه حالت کښې پاڅیږي ❀ د رابیداریدو نه پس دا دعا لولئ: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْیَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَ اِلَیْهِ النُّشُوْرُ، ترجمه: ټول صفات هُغه **الله**

---

[1]... مسند ابی یعلٰی، جلد:4، صفحه:121، حدیث:4915.



www.dawateislami.net

پاک لره دي، چا چې مونږه د مړ کيدلو نه پس ژوندي کړلو او هُم د هغه په لور ګرځيدل دي. ❁ کله چې د هلک او جينئ عمر لس کاله شي نو دوئي بيل بيل خملول پکار دي بلکه د دومره عمر هلک د دومره عمر هلکانو (يعني د خپلو همزولو هلکانو) يا د دوئي نه غټو سړو سره هم مه خملوئ ❁ هلک چې کله د شهوت حد ته اورسي نو هغه د سړي په حکم کښې دے ❁ کله چې د خوب نه رابيدار شئ نو مسواک کوئ ❁ د شپې چې کله راپاځئ نو تهجد ادا کوئ دا ډير لوئي سعادت دے. د **رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان** دے: "د فرضو نه پس افضل لمونځ د شپې لمونځ دے." [(1)]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د **بهارِ شريعت** جلد نمبر 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه ذريعه د **دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو** کښې عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

سنّتيں سيکھنے تين دِن کے لئے | ہر مہينے چليں، قافلے ميں چلو
رب کے در پر جُھکيں، اِلتجائيں کريں | بابِ رحمت کھليں، قافلے ميں چلو

**الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مسلم، كتاب الصيام، باب: فَضْلِ صَوْمِ الْمُحَرَّم، صفحہ: 424، حديث: 1163.



www.dawateislami.net

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صلّى الله عليه واله وسلّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صلّى الله عليه واله وسلّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رضى الله عنه نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلّى الله عليه واله وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

### ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِىَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵